د حزب التحرير
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

شنبه ۰۹ ذوالحجه ۱۴۴۰هـ | ۱۰-۰۸-۲۰۱۹م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۳۹/۱۳

مطبوعاتي اعلامیه

# حزب‌التحریر ـ ولایه افغانستان

## د نړۍ مسلمانانو ته د نېکمرغه لوی اختر مبارکي وایي

د **حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر** ټول اسلامي امت ته د نېکمرغه لوی اختر د رارسېدو مبارکي وایي او الله سبحانه وتعالی ته د دعا لاسونه پورته کوي، ترڅو زموږ او ستاسو طاعات، عبادات، حج او قرباني په خپل دربار کې قبولې کړي او د خیر او برکت، نصرت او بریالیتوب دروازې د اسلامي امت پر مخ باندې پرانېزي.

د قربانۍ عید د الله سبحانه وتعالی د رضا او د اسلام د قایمولو لپاره د ابراهیمي سنتو د رسم او رواج د دوام پر بنسټ د ځان، مال او ژوندانه د تر ټولو ښو څېزونو قربانول دي. مګر له هغه ځایه چې د نړۍ د اوسني نظم رهبري د مفسدین فی الارض او د دې عصر د دجالانو لاس ته لوېدلې، هغوی د لوی اختر خوشالۍ په اسلامي خاورو په ځانګړې توګه په افغانستان کې په غمیزه بدلې کړې دي.

په داسې حال کې چې د یوه مسلمان وینه الله متعال ته تر کعبې ډېر ارزښت لري، د دې پر ځای چې د مسلمان وینه د اسلام د حاکمیت او سرلوړۍ لپاره تویې شي، متاسفانه د دغه امت د بچیانو وینه د امریکا د ګټو، د لاسپوڅو دولتونو د بقا او خپل منځي جګړو لپاره ضایع کیږي.

لکه څنګه چې یرغلګرو له هوا او ځمکې د افغانستان د مسلمانانو سینې د خپلو تروریستي او وحشیانه بریدونو هدف ګرځولې، د فکري او ثقافتي بریدونو په ترڅ کې یې ذهنونه د انحطاط لور ته بېولي او ځوانان او سیاستوال یې لار-ورکي کړي دي. امریکا د خپلو اغوا کوونکو سیاسي پروګرامونو له مخې په افغانستان کې د دایمي نفوذ په هڅه کې ده، مګر داسې ښیي چې موږ د جنګ د ختمولو او سولې د تحکیم په هڅه کې یو. حال دا چې د امریکایي سولې له منځه وحشت او جنګ اوریږي.

اسلامي امت به د عید پرمهال واقعي خوشالي هغه وخت حس کړي چې د اسلامي مبداء او ارزښتونو پر بنسټ نوی سیاسي نظم رامنځ ته شي او د مسلمانانو د ژوند په ټولو برخو کې پلی شي او داسې رهبران د قدرت پر ګدۍ کښېني چې اسلامي ارزښتونه، د اسلام تطبیق او د مسلمانانو وینې او عزت ورته سرې کرښې وي. نه دا چې شخصي، قومي، مذهبي او جغرافیوي کوچنۍ ګټې ورته سرې کرښې وي. ان شاء الله العزیز چې د داسې ورځې راتلل لېرې نه دي، چې د امت سترګې یو ځل بیا د راشده خلافت په نور باندې روښانه شي او د امت غم لړلې ورځې د خوشالۍ او یووالي په جشن باندې بدلې شي، مګر ړوند اندي هغه لېرې بولي، حال دا چې الله سبحانه وتعالی پر هرڅه قادر دی.

**د حزب‌التحریر ـ ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**

د حزب التحریر ولایه افغانستان رسمي ویبپاڼه
www.hizb-afghanistan.org
ایمیل پته
info@hizb-afghanistan.org

د حزب التحریر رسمي ویبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.org
د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر ویبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.info